# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


برگردان از: احمد شاه وردک –کابل

۱۲ سپتمبر ۲۰۱۱

## دتروریزم پر ضد، دامریکا یوی لسیزی جګړی،

## یوملیون خلک مړه او۱.۸ تریلیونه ډالره لګښت درلود

دکاناډا دګلوبال ریسرچ بنسټ دامریکا یوی لسیزی جګړی ته په کتوسره لیکی چی دی جګړی یو ملیون خلک ووژل او تر یو اعشاریه اته تریلیونه ډالره لګښت یی له ځان سره درلود او اړول شوی زیانونه یی، نه جبران کیدونکی وبلل.

دشنبی په ورځ دایرنا خبر رسوونکی بنسټ ګلوبال ریسرچ په حواله ولیکل: د۲۰۰۱کال دسپتامبر دیوولسمی راپدیخوادتروریزم پرضد دامریکا یوی لسیزی جګړی تریوملیون زیاد وګړی مړه کړی او تریواعشاریه اته تریلیونه ډالره یی زیاد لګولی دی.

د(تروریزم پرضد دجګړی) اصطلاح دلومړی ځل لپاره دجورج ډبلیو بوش لخوا د۲۰۰۱ کال دسپتامبر په ۱۶ نیټه په کمپ دیوید کی دالقاعده دډلی دمشر اسامه بن لادین په مقابل کی دجګړی دپیلامی په توګه، په خپله وینا کی وکارول شوه. دسپتامبر دیوولسمی په راورروسته میاشتو او اونیو کی، دبوش دولت ترهمدی سرلیک لاندی په یو لړ امنیتی او پوځی بریدونو لاس پوری کړ اولومړی برید دافغانستان په هیواد د۲۰۰۱ کال داکتوبر په میاشت کی پیل شو.

ګلوبال ریسرچ ددی جګړی موخه په افغانستان کی دطالبانو دواکمنی رانسکورول اوله دغه هیواده دالقاعده دجنګیالو ایستل عنوان کړی دی. ددی سرچینی له قوله(امریکایانو) غوښتل چی القاعده له منځه یووسی او په نړیواله سطحه دافغانستان څخه ددوی دبریدونو توانمندی له منځه یوسی. داسامه وژل اویا ژوندی نیول هم دهمدی برید له موخو څخه وو.

لکه څرنګه چی وویل شول پر افغانستان برید کول دامریکا دجګړی لومړی ګام و، ورسته په ۲۰۰۲ کال کی واشنګټن په فلیپین کی دجماعت الاسلامیه او ابوسیاف ډلودله منځه وړلو لپاره په یو لړ اقداماتو لاس پوری کړ. وروسته دهمدی کال په اکتوبر کی د امریکا پوځ دافریقاپه لویه وچه کی دهغوډلو پرضد چی دالقاعده سره یی اړیکی

درلودی له جیبوتی څخه پیل اوپه ایتوپی، سومالیا، چاد، ناجیریا کی په یو لړ پوځی اقداماتواوبریدونو لاس پوری کړل. دغه پوځی عملیات چی دافریقا له شمالی ښکر څخه پیل شول دافریقا مرکزی برخو اودافریقا صحرا ته هم وغځیدل. دامریکا دځانګړوځواکونو څخه په زرګونو جنګیالی په دی عملیاتو بوخت شول چی دافغانستان، عراق اوپاکستان دعملیاتو له وجهی یی په رسنیو کی پراخ غبرګون نه درلود اودخلکو له نظره پیکه ورغلل.

هغه جګړه چی امریکایان یی دتروریزم پرضدجګړه ګڼی په ۲۰۰۳ کال دعراق هیواد ته وغځیدله. ددی برید موخی نه وی بربنډی شوی. دعراق دمخلوع شوی دیکتاتور صدام حسین، دډله ایزو وسلو په هکله دروغجن اومتناقض خبرونه په دی هیواد دیرغل لاملونه وبلل شول.

د۲۰۰ زرو په شااوخوا کی دامریکا په مشری دنړیوال ایتلاف سرتیرو ددی برید په لومړیو که برخه واخیسته ، دعراق دیکتاتور صدام حسین له واکه لیری شو، بیا ونیول شو اواعدام شو ولی دډیله ایزو وسلو هیڅ څرک هم پیدانشو.

دګلوبال ریسرچ دلیکنی پربنسټ، دنیوپارک دغبرګونیوودانیو له برید راپه دیخوا یوه لسیزه وروسته هم دغه جګړه لا روانه ده اودافریقا له ښکره رانیولی بیا تر عراق، یمن،افغانستان اوپاکستان پوری غځیدلی او به درب روانه ده. دی جګړی دمالی اوځانی لګښتونو له پلوه امریکا او دشمالی انتلانتیک دتړون(ناتو) لپاره بی شمیره تاوانونه اړولی دی. په عراق کی تر ۵۰۰۰ پوری امریکایی عسکر مړه او تر ۲۳۰۰۰ پوری نور ټپیان شوی دی. له دی نه پورته په افغانستان کی دامریکا تر قوماندی لاندی تر ۳۰۰۰ سرتیری وژل شوی اوتر ۱۳۰۰۰ پوری نور ټپیان شوی. له دی نه پرته تر ۱۰۰۰۰ پوری دامریکایانو اجیر سرتیری، دخصوص کمپنیو او خدماتی عملی او غیرپوځی پیمان کاران هم وژل شوی دی. امریکایی داوطلبانو ته داوښتیو زیانونو پیټی ډیر دروند دی. دامریکا دپوځ دروغتیایی- څیرنیز مرکز په حواله ددی جګړی په پایله کی ۶۶ زرو او ۹۳۵ تنو سرتیرو ته دستریس(ژورخپګان) ناروغی ورپیښه شوی. دامریکا دکنګری دڅیرنو مرکز هم داپه ګوته کړی چی ۱۷۸ زره او۸۷۶ زاړه سرتیری دهمدی جګړوپه پایله کی دمزمنی مغزی ناروغیو سره لاس او ګریوان دی. تقریبا ۲۰۰۰ زاړه سرتیر دبدن دغړیو دغوڅیدو سره مخ شوی دی اوپه سلګونو تنه سرتیری دځان وژنی اویا له هغو ټپونو څخه ژوند بایللی چی په افغانستان او عراق کی دخپلو دندو په وخت کی ورپیښی شوی.

د سپتامبر دیوولسمی راپه دیخوا دامریکا یی سرتیرو ترمنځ دځان وژنی کچه دوه برابره شوی اوددی جګړی مالی لګښتونه دامریکا دغیرپوځیانو او دعراق اوافغانستان دخلکو لپاره ترشمیر پورته ګڼل شوی دی. په داسی حال کی چی دجګړی دتاوانو اټکلونه مختلف دی خو دانګلستان دیوی روغتیایی څیرنیزی خپرونی( لنست) دیوه ګزارش پر بنسټ په عراق کی ۶۵۵ زره غیرپوځی عراقیانو ددی جګړی په ترڅ کی خپل ژوندونه له لاسه ورکړی دی. دی ته ورته څیرنی په ډاګه کوی چی په افغانستان کی تر ۴۰۰۰ ډیر ملکی وګړی( غیر پوځیان) ددی جګړی په پایله کی وژل شوی. داهغه ارقام دی چی په عراق اوافغانستان کی یوازی دامریکایی عسکرولخوا وژل شوی ولی په ډیرو پیښوکی ملکی وکړی دشبه نظامی ډلو(اجیرو پوځونو) لخوا وژل شوی چی ویلای شو دجګړی دتلفاتو دقیق او کره ارقام تردی څوواری لوړدی.

دامریکا دکنګری دڅیرنیزو خدمتونو مرکز دروان کال دمارچ په میاشت کی په خپل ګزارش کی په ډاګه کړه چی داوبونه هاخوا(آنطرف اقیانوس ها) دامریکایی پوځ عملیاتو تر یو تریلیون او ۸۰۰زروملیاردو ډالره مالی لګښت پیټی دامریکا دمالیه ورکوونکو پر اوږو اچولی دی، یعنی د۲۰۰۱ کال دسپتامبر دیوولسمی راپدیخوا هرکال ۱۳۰ ملیارده ډالره. دم ګړی دامریکاد پوځی عملیاتو لګښتونه په ورځ کی ۳۶۸ ملیونه ډالره او په هره ثانیه کی۴۰۰۰

ډالره اټکل شوی دی. دهمدی مرکز دڅیړنو او ارزونو په پایله کیددی لګښتونو کچه تر یو تریلیون او ۸۰۰ ملیاردو ډالرو پوری رسیږی.

پای